# د ستړو ځاي

صفیه حلیم

بودهاي راهبان يوه کيسه کوي چې دوه زره کاله پخوا د ګندهارا په يوې غرنۍ سيمې ورشا پوره کې د رياست باچا ويسوانترا نوميدو. دې ډېر سخي و او هرچا که ترينه څه وغوښتل، هغه به يې ورله په خېرات کې ورکړل.

عام اولس به ورته سودنتا، يا سودنه نوم ورکړو چې معنا يې د سود ( پېرزو ) کوونکي ده. ده سره د سپين رنګ يو پيل ( هاتي) واو د پيل کرامت دا و چې که په هر ملک کې و هلته به سوکړه ( وچ کالي) نه راتله. يو ځل داسې وشول چې دې باچا هغه پيل يو دشمن ملک خلکو ته وروسپارلوځکه چې وچ کالي هلته د خلکو زمکې ويجاړې کړې وې اوهغوي د سودنتانه هغه کرامتي پيل غوښتې و چې ددوۍ د ملک نه وچ کالي لرې شي

په دی کار د هغه خپل اولس په قهر شول او دی يې له ملکه وشړلو. سودنتاد خپلې ميرمنې اود دوو اولادونو سره ښارته نږدې يوې غونډۍ ته روان شو. په لاره ورته يو برهمن مخې ته راغي اوهغه ته يې وويل زه وږې يم ، څه د خوراک راکړه. باچا په هغه حال هم نه غوښتل چې يوڅوک تش لاس تری ولاړ شي. نو خپل دواړه ماشومان يې برهمن ته په خېرات کې ورکړل. باچا او دده مېرمنه د غره په دوو څمڅوکی ژوند پېل کړو او زيات وخت به يې په عبادت تېروو.

برهمن په ماشومانو ظلم کاو اودوي يې وهل ټکول تر هغې چې يوه ورځ په بازارکی خپل نيکه وپيژندل نو په چيغو او نارو يې خلک راټول کړل او پوښتنه يې وکړه چې دی ماشومانو څه ګناه کړې وه؟ . د سودنتا په شان لوې زړه به د چا وي؟ په دی خبره خلک پښېمانه شول او خپل باچا پسې هغې غونډۍ ته ورغلل. باچا بېرته راغي خو هغه ځاې د" دانه پراميتا" په نوم ونومول شو يعني د ورکړې ( خېرات) پورا کولو ځاې. د بودهاي عقيدې پر اساس ګوتم بودها په بيلا بيلووختونو او د انسانانو په وجود نړۍ ته راغلې دې او وسوانترا دهغه يوه بڼه وه. دا ځاې اوس د شهباز ګړهي په نوم ياديږي چې د خېبر پښتونخوا د مردان نه ۱۲ کلوميټر لمر خاته اړخ ته دې.

هغه غونډۍ چې باچا پکی د خپلې مېرمنې سره په يو غارکی وسيدو د چنکو ډېرۍ نومېږي. په ۱۹۶۰ م کی جاپاني لرغون پوهانو ددی کيسې د پلټنو لپاره دلته کيندنې وکړې او دوه غارونه يې رابرسېره کړل. د شهباز ګړې شاو خواسيمه اوس هم د سودانه او سودم په نوم ياديږي. دلته يوی بلی غونډۍ ته د مېخې سنډا نوم ورکړې شوې دی چې وربانډی يوه سر چپه سمڅه ده يعني خوله يې اسمان ته ده او ددی په تل کی د يخو اوبو چينه ده. کوم جاپانيان چې هلته د څېړنو لپاره ورغلي و ، هغوئ دا د شفا چينه وبلله چې په زړو بودهاي متنونو کی يې زکر شوې دې. دلته د دوو بودهاي سټوپو نښښی هم وې.

شهباز ګړهه د ګندهارا د څلورو لويو ښارونو نه يو وچې هغه وخت دريو مهمو ځايونو ته د تلونکی لارې په سر وه. دا لارې د کابل نه پشکلا وتي( چارسده) د بونېر نه اودهيانه (سوات) او د اباسين په غاړه د هند نه ټېکسلا ته وتلي وې. د ښار په منځ کې مکام نومې سيند بهيږي. ښاي شهباز ګړهه د ارياپانو له وخته اباد ښار و ځکه د مقدوني اسکندرتاريخ ليکونکې اريېن دلته د يوه لرغونې ښار چې بازيره نومېدوزکر کړې دې.

دلته تر ټولو زوړ ليکلې تاريخي ډبر ليک په دوو ټوټو کی اوس هم پخپل ځاې پاته دې چې اشوکا باچاورباندې خپلو خلکو ته د ښو اخلاقولاره ښاي. د دريم ق.م پېړۍ د هند د لوې وچې نامتو باچا اشوکا دبودها په منونکو کی و او ده د بودها تعليمات په تيږو د ليکلو ( کنده کولو ) امر وکړوچې دده د سلطنت په لر او برکی د لويو ښارونو د کاروانونو په لاروليدې شول. د هندد لوې وچې په نهو دېرشو ځايونو کی چې د افغانستان ځيني برخي هم ورسره وې، د اشوکاليکونه رابرسېره شوي دي. په دی کی مهمې ليکنې په اتوځايونو کی په ډبرو ( تيږو) وموندل شول چې څوارلس جملې لري.

دشهباز ګړهې لويه تيږه د زمکې نه ۸۰ فټه لوړه د يوې غونډۍ برخه ده چې۲۴ فټه اوږده او ۱۰ فټه لوړه ده ،پلن والي يې لس فټه دي. ددی لوې تيږې يوه ټوټه له دې را ببله شوې او ښکته لوېدلې وه چې په ۱۸۷۱ م کی انګرېز لرغون پوه ، الېګزانډر کننګهم د پورته کولو او د لوې تيږې سره د يو ځاې کولو هڅه وکړه خو پاته راغې. وروسته هغه دواړو تيږو ته د ورتلو لپاره پوړۍ ( زينې) او د پاڅه پرې څپرونه جوړ کړل چې د باران په اوبو دا ليکنې ورکې نشي. ددې تيږې نه د ژبې د لوستلو لپاره څو وارې په تور رنګ دکاغذپه مخ نقش واخستل شو.

بيا په کلکتې کی د څلورو ژب پوهانو او د لرغونو توکو ماهرانو، د ډبر ليک مفهوم پيدا کړو. دا خروشتي ليکنه ده چې لکه د پښتو د ښي لاس نه ګس ته ليکل کېده او د هندي يوناني او هندي ساکاي سيکو له مخې له وړاندې پيژندل شوې وه. ددی تيږې په لويديځ اړخ د پينځو يوناني باچاهانو نومونه ليکلي. د شهباز ګړې تيږه د غونډۍ يوه برخه ده. او ښاي پخپل ځاې ورباندې ليکنه شوې ده.

## د شهباز ګړهې د ډبر ليک ژباړه

کله چې باچا دېوانام پريه، پريه درشين (اشوکا) اته کاله ( پخوا) واکمن شو نو ده د کالنګا (سيمه) ونيوله. يو لک او پنځوس زره خلک د هغه ځايه وويستل شول. سل زره

دا دکالنګا د نیولولپاره د دېوانام پریه پښېماني ښرګندوي. ځکه چې د دېوانام پریه لپاره دا یو ډېردردونکي او دتاسف کار و چې د یو نه فتح کېدونکي ملک د نیولو پر وخت دی خلک قتل ، مړیني او خپل کور پرېښودو ته اړ کړې شي. خو دېوانام پریه دا لاندیني ټکي د هغې نه هم زیات د خواشینی وړ ګڼي.

برهمنانویاد نورو فرقو شرامانو(ملایانو)اود کور خاوندانو ته چې پکی اوسیږي،ددې کارونو د کړو وړل کېږي" د هغو اطاعت چې ګټندوې وي، مور او پلار ته اطاعت، مشرانو ته اطاعت، ملګرو، خپلوانو، خوېشانو او ملوسره ښه روغبړ. خدمت ګارانواو مریېانوسره پت پالل، ځکه چې دا کسان یا ټپي، یاوژل کېداې شي او یا به د نږدې خپلوانو نه لرې ځي. که داسې بد بختي د هغو کسانو په ملګرو، خپلوانو، ملو او خویشانو را پېښیږي، چې ورته ډېرګران دي، نو که څه هم دوي به پخپله ښه ژوند ولري، خو هغه (د خپلو خپلوانو) بده ورځ به ددوي لپاره دردونکي وي. دا (حالت) په هر انسانان راځي او دېوانام پریه لپاره داد تاسف خبره ده.

بې له شکه داسې یو ځاې وجود نه لري چې انسان پکې ، د یوې فرقې( مذهب) غړې نه وي. نو ځکه د کالنګا د نیولو پر وخت چې څومره خلک ووژل شول، څومره مړه شول او څومره کورنو پرېښودو ته مجبوره شول، د هغوي نه سل برخې او یا زربرخی کم خلک هم که اوس د هغه حالت سره مخ شي نو دا به د دېوانام پریه لپاره د تاسف خبره وي. او دېوانام پریه فکر کوي، چې که چا سره بد هم شوي وي نو که بخښلې یې شي نو ودې بخښي. ان تر دې چې په ځنګلونو کی هم چې د دېوانام پریه په واکمنی کې دي ، اوسیدونکو ته دسر ټیټولو او دخپل چلن د بدلولوهڅاکیږي.

او دوي ته د دېوانام پریه د (د سزاورکولو ) قدرت په اړه(خبرداري) ویېل کیږي چې (که) پخپل جرم پښېمانه وي نو ددوي د وژلو نه به ډډه وشي. دېوانام پریه د ټولو انسانانو نه هیله لري چې ( بل ته دی) تاوان نه رسوي، خپل ځان ( نفس) دی قابو کړي او د زور زیاتي پر وخت دی بی پرې ووسي. او دا بریالیتوب ( د اخلاقو برې) دېوانام پریه لوې برې ګڼي او دېوانام پریه دا برې بیا بیا تر لاسه کړې دې، هم دلته او هم خپلو ټولو سرحدونو کې .

ان چې شپږرو سوو ووجانه ( په فاصله) چې داپنتي یوکا نومې، د یونا ( یوناني) باچا حکومت دې او د اپنتي یوکا نه وراخوا چې څلور نور باچاهان واکمن دي. ددې باچاهانو نومونه، تورامایه، انتي کیني، ماکا، او الیکاسودارا ( اسکندر) دي. او جنوب

د هغو ځایونو خلکو هم چې دېوانام پرېه سفیران ورته نه دي ورغلي، د اخلاقو د فرایضو، د قانون او د دېوانام پریه د اخلاقو د تعلیماتو په اړه یې اوریدلي دي، سر ورته ټیټوي او په راتلونکي کې به یې هم مني. دا هغه برې دې چې هر ځای بیا بیا تر لاسه شوې دې، د اطمینان د احساس سبب ګرځېدلې دې. د ښو اخلاقو په برياو اطمینان ( مې) تر لاسه کړې دې.

خو په دی کی شک نشته چې دا اطمینان معمولي حېثیت لري. دېوانام پریه فکر کوي چې په بلې دنیا کې به دا نور زیات ارزښت لري. او ددی هدف لپاره د اخلاقو په اړه دا لیکنه ولیکل شوه. ددی لپاره چې زما زامن اولمسي چې له ما به زېږیدلې وي، داسې فکر ونکړي چې د نوي سره به ( د ملکونو) فتوحات کوي. که دوي په فتوحاتو خوشالیږي، نو په رحم کولو او نرم سزا په ورکولو دی هم خوند واخلي. دوي داخلاقو برې دی د ریښتاو ( اصل) برې وګڼي. دا برې هم په دی دنیا او هم په بلې دنیا کې ګټه ور دې.

اود نورو ټولو هدفونو نه که لاس په سر شي نو د اخلاقو خوندریښتوني خوند دې. ځکه ددی مېوه (اجر) هم په دی دنیا، اوهم په بلې دنیا کې تر لاځه کیږي. "

د شهباز ګړهي د ډبر لیک جملې که څه هم د اشوکاباچا هغه پښېماني څرګندوي چې د کالنګا په جنګ کې د زرګونو انسانانود وژلو او بی کوره کولو نه وروسته دده نوم بد کړې و، خود بودها اخلاقي اصول ورته غوره ښکارېدل چې د تشدد مخ نیوې، او د نورو ژوو ته د احترام حق په اساس ولاړ و.

دګندهارا خلکو تر وو پېړیو بودهاي دین ولمانځلوخو د باچاهانو له خوا کله چې ددی سر پرستي ختمه شوه نو برهمني عقیدې زور وموندلو. یو چیناي ګرځندوی سونګ یون په ۵۲۰ م کی دلته ورغلې و او د ګندهارا د باچا په اړه لیکي چې " هغه د بودها په قانون باور نه لري، او د شېطانانو لمانځنه یې خوښیږي. خو د سیمې خلک بیا هم د بودها قانون منونکي او د سپېڅلې کتاب ولوستل یې خوښ دي." یو بل چیناي زیارت کوونکي خوان زوانګ ( هیون څانګ) په ۶۳۰ میلادي کال کی دلته خلک ولیدل چې د چنکو ډېرئ معبداو د سیري په ستوپا کی دسودنتا د ماشومانو د پېښې په ویاړ د نذر ورکولو او د عبادت لپاره ورتلل. خوان زوانګ لیکي چې د "پولوشا" ( شهباز ګړهه)

د نولسمې پېړۍ په وروستۍ نيماي کې انګرېز محقق الېګزانډر کننګهم دشهباز ګړهې په هرې برخې وګر ځېدو، خلکو سره يې خبرې وکړې او دموندل شوولرغونو شيانو په اړه يې تفصيلي رپورټ وليکلو. دی واي چې " يو وخت دا ښار د سيمې پلازمېنه وه او خلکو راته د ښارد شمال او ختيځو دروازو سره نږدې د خپرۍ، يا خپره دره نومې ځاې په ګوته کړو.

ددوي خبره ريښتيا وه ، هلته ما د ماتو خښتو او د لوښو د ټوټو انبارونه وليدل. ددی ځاې زوړ نوم خلکو ته معلومه و خو ځينو ورته ستامي او نورو سيترامي ويېل. ولی زه باور لرم چې دا دواړه د نامتو بودهاي شهزاده سودانه يا د سوداتا نومونه و" د کننګهم په اند دلته د سودم نومې کلې هم ددی سودانه يو شکل دې.

کننګهم په دې کنډوالوکی د ساکاي يونان بېلا بېلو باچاهانو د دورې د ميسو څلور ګوټيزه سيکې هم وموندلې چې په ځينو يوه خوا زمرې او بلې خوا هاتې( پيل) جوړ و. ددی نه علاوه د تخاري ساکاي ( کشان) د کجولا کډفاېسس او ددی نه هم زيات د ويما کډفاېسس او تر ټولو زيات دکانېرکې( کنشکا) سيکې يې وموندلې.

پوښتنه دا ده چې د پولو شا او ورشاپوره نوم څه وخت شهباز ګړهه شو؟

په لومړي ځل ددې نوم يادونه په شپاړسمې ميلادي پېړۍ کې بابر باچا پخپلو ليکنو کی کړې ده. واي،" دېرش څلوېښت کاله کيږي، شهباز نومی يو ملحد ډېر يوسف زي او دله زاک پېښتانه پخپله لومه کی ګېرکړي و. ددی ملحد قبر هم دلته ديوې غونډۍ په سر چې ډېره ښه فضا لري جوړ و . نو ځکه ما امروکړو چې ددی ملحد قبر دی وران کړې شي". د بابر د ليکنې نه اندازه کيږي چې شهباز نومې قلندر به د لودهيانو ( سکندر لودهي ) پر وخت دلته ورغلې وي. کېداې شي دی د هغو سادهوانو ( درويشانو) نه وچې د پينځلسمې پېړۍ په وروستيو کې يې د سيک مذهب د باني ګورو نانک په پل ګام اينبې و. خو ددی ځاې نوم له هغه وخت نه شهباز ګړهه شو. د پښتو دا متل ښاي له هم هغه وخته رواج شوي وي چې، "د ستړو ځاې شهباز ګړهه ده"

په ۱۸۴۵ م کی يو بل انګرېز چارلس مېسن چې د سيمې په کنډوالو کی به د سيکو او مجسمو په لټه ګرځيدو، شهباز ګړې ته ولاړو.دی پخپلو يادښتونو کی ليکي، " د کلپانې

نیماي لاره کې مونږ د مواب باندې نه تېر شو چې دوه سوه کورونه پکې جوړ و.او ددی د ځنګل او د زیارت نه وراخوا لویه هدیره ده. په برګړی کی یو سل او پنځوس کورونه و." مېسن وړاندې د شهباز ګړې د نوم په اړه د بابر د لیکنې زکر کوي او وای، " یو هندو بدري ناته د اېم کورټ ( جنرال) په امر د کوټې د جومات نه د سپین مرمرو یوه تخته راویستله. د کلي خلک باور لري چې په دې د شهباز قلندر د لاس لیکنه شوې وه.

د شهباز ګړهې خلک د کیسو جوړلو هنر لري او په داسی ډول یې د سیمې د تاریخ سره وتړي چې خلک پری باور پېل کړي. دا چې انګرېزانو د جومات نه د مرمرو ډبره څه کړه او څه پری لیکلي و د څېړنې وړ موضوع ده. خو دا د نه منلو خبره ده چې شهباز نومې قلندر به په تیږې څه لیکلي پرېښي وي. دلته اوس هم د لرغونو توکو د کیندلو او په ځینو ځایونو کی د سرو زرو د توکو په موندلو هم خلک رنګا رنګ کیسې کوي.

د اشوکا ډبر لیک ته ځاي خلک ښکلې ګټ ( تیږه) واي اوهځ وهي چې د زمکې د لاندې په یو غار کې د سرو زرو لوېه خزانه ده او دی تیږی د غار خوله بنده کړې ده. ددی تاریخي سیمې لپاره داسې کیسې خواشینونکي دي. دمال په حرص هغه پوهه چې یو وخت خلکو لرله اوس الونیا ده. تردی چې د اشوکا په ډبرې هغه لیکنه ترې هېره ده چې د نړی په دی برخه کی د دوو زرو کالو نه زیاته موده کیږي د انساني حقوقو درس ورکوي.

**سر چینې**


۱. د اشوکا لیکنې. الېګزانډر کننګهم رپورټ. ۱۸۸۷ د کلکتې چاپ.
۲. د هند ارکیالوجیکل سروې. جارج کننګهم. ۱۸۷۵ پینځم ټوک. ۱۸۷۵. مخونه ۶، ۷،۹، ۱۷
۲. تزک بابري. ترجمه، رشید اختر ندوي. سنګ میل چاپ ۱۹۹۹، ۱۵۰ مخ.
۳. نسکورې ډبری. ګوهر رحمان ګوهر. بي بي سي پښتوخپرونو چاپ. ۱۹۹۹ کال. ۴۵ نه تر ۵۲ مخونه.

۴.  د گندهارا لرغوني جغرافیه. اې. هرگریوز فووشر. اېشیاي تعلیمي خپروني.
۲۰۰۵هند، . ۲۴ مخ
۵.  د چارلس مېسن یاداشتونه د شهباز گړهي په اړه. ۱۸۴۵ م اتم ټوک ۵ مخ.



**د شهباز گړي ډبر لیکنه**